FEFA

د افغانستان د آزاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد

بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان

Free&Fair Election Foundation of Afghanistan

## دکال( ۱۳۸۹ )دولسی جرگی دڅارنې دکمیټی ځانګړي راپور

دولسی جرگی د نوماندانوپرخلاف دنورو نیوکی برسیره دوسلوالو گروپونوسره دهغو ي د تړاو تورونه.

ډیري نوماندان دخپل سرو غیری قانوني وسلوالوګروپونو سره تړاو لري ، دغه ډول تړاونه دټاکنو رڼتوب او شفافیت دمینځه وړي.
فیفا یو غیری دولتي ناپیلي ارګان دي او د دیموکراسی اصولو او قواعدوته احترام لري اوپه هیواد کی دبشپړی ولسواکي اودیموکراسي دحاکمیت لپاره کارکوي.
په نوماندانو کي دخپل سرو وسلوالو ګرپونو سره تړاو لرونکو افرادو شتون دفیفا لپاره داندیښنی وړدي ددغه ډول افرادو شتون به دبشرحقوق او دیموکراسی په اړه پوښتنی راپیداکړی او په هم دی ډول د ټاکنو روان بهیرډیر سست او دقناعت وړندي.
فیفا باورلري که دټاکنو بهیر روڼ او شفاف نه شي نو دنوماندانو سیاسی حقوق به ترخپولاندی شي.
دغیري قانوني وسلوالو ګروپونو سره دتړاوپه تور دهیواد په مختلفو ولایتونو کي ولسی جرگی ته د (۲۴) نوماندانو نومونه د لست څخه ویستل شوي او دوی دنوماندیدو له حق څخه بی برخي شوی دي، فیفا ددغه نوماندانو سره مرکی کړ ي او ددوي شکایتونه یی اوریدلی اوثبت کړید ي فیفا دقیقا ددغه نوماندانو په خبرو باورنه لری ، البته دټاکنوپه پروسه ک ي کارکونکو ټولو اورګانونو څخه تقاضا کوي چه په سیستماتیک ډول دی داسي لاري چاري ولټوي چه په راتلونکی کي ټاکنیزبهیر روڼ او شفاف اوسي.

- دکال (۱۳۸۹) دولسی جرگی دنوماندانو پرخلاف دنیوکو دبرسی بهیر.

تردی دمه دشکایتونو کمیسیون ته ده یواد دبیلابیلو ولایتونو څخه د (۴۴) نوماندانو پرخلاف شکایتونه رارسیدلي په دغه شکایت پاڼو کي لیکل شوي چه دغه نوماندان دخپل سرو ټوپکمارانو سره لاس لری ، دشکایتونوکمیسیون دپورته ذکرشو وو (۴۴) نوماندانو دجملي څخه (۴۲) کاندیدانو ته برات ورکړ ي او دویی ددی وړګرځولي دي چي د روان کال دولسی جرگی په ټاکنو کي ونډه واخلي او ددوی پرخلاف درج شو ي تورونه یی بـي اساسه بللي دی او یوائی (۲) نوماندان یی تورن معرفی کړی ،
دبرسی دکمیسیون لخوا دولسی جرگی (۸۳) نوماندان په هغه لست کی شامل کړی کوم چی دغیری قانوني وسلوالو ډلو سره تړاو لري، کمیسیون دغه نوماندانو ته پنځه ورځی وخت ورکړی چی خپل

ځانونه سپين کړي او د امنيتی اورگانونو په وړاندی ددغه جگړه مارانو سره دتړاو تورونه رد او خپل ځانونه بيگناه ثابت کړي.
دکميسيون لپاره دتعجب وړده چی څرنگه تورن نوماندان پدی وتوانيدل چی په دغه لنډه موده کـی خپل ځانونه پاک اوبيگناه ثابت کړي.
په افغانستان کی دملگرو ملتونوځانگړ ي استازی (استفان د ي مستورا) دروان کال دسرطان دمياشتی په (۲) نيټه په خپلو څرگندونو کي وويل [چي دشکاياتو کميسيون تردی دمه خپلی دندي په ښه ډول انجام کړی خو په دغه مرحله کي يی زه نا اميده کړم].
دفيفا محترم مشر نادري خپله بی باوری داسی بيان ه وي : په ټاکنوکی په غيری مناسبه توگه شکايتونوته رسيده گی او دنوماندانو په مينځ کي د غيری قانون ي وسلوالوگروپونو سره تړاو لرونکواشخاصو موجوديت د زياتي انديښنی او نا اميدي وړدي.
د ټاکنو دشکاي‌تونو د کميسيون دارزونی دمخي دزياتو جلساتو او مشورو او په ټولو قانونی لارچارو غوراوفکر وروسته دټولو جوانبو په څيړلو سره د (۳۱) نوماندانو نومونه په دويم لست کی شامل کړه.
دسرطان په (۹) نيټه دچهارشنبی په ورځ فيفا دتليفون له لاری د هغه نوماندانو سره چي د خپل سړو غيری قانوني وسلوالو ډلو سره دتړاو په لرلو تورن شوي وو خبري وکړي تورنو نوماندانو وويل چه مونږته دکميسيون لخوا(۴۸) ساعت وخت راکړی شوي چه خپل ځانونه پکی بيگناه ثابت کړو.
يوه ورځ وروسته فيفا په بيړنی توگه ناسته و کړه په دغه ناسته کي دشکايتو نو د اوريدلو کميشنرپوهان کريگلر داسي وويل: دکميسيون لخوا دسلوالو گروپونوسره دتړاو په درلودلو په دريم لست کی د يو تعداد هغه نوماندانو نومونه ترسترگوکيږی ،په دريم لست کی د ۱۶/۲۶ نوماندانو نومونه درج دی چه په تيرو دوه لستونو کې نه وو.
دسرطان د(۱۰) تاريخ په مطبوعاتی اع‌لاميه کي راغلي چه دغه کانديدان (۲۴) نفردی په جلسه کي يواځي (۱۶) نوماندان په گوته شول ، په ناسته کي وويل شول : مخکي له دي چي ددغه نوماندانو نومونه دلست څخه لري شي نه بايد چه دخپل ځان څخه دفاع وکړی، بهرحال کميسيون پدی ټينگارکولو چي بايد دويته ددفاع حق ورکړل ش‌ي دکميسيون لخوا ورته ډيره لږه موده (۴۸) ساعت وخت ورکړل شويدي،
دجلسي دپای سره سم دفيفا اجرايوی مشر ښاغلي جانداد سپين غر دټاکنو دخپلواک کميسيون دمشر فضل احمدمعنوی سره تليفونی اړيکه ونيوله اوپدی اړه يی ورسره په تفصيل خبري وکړي معنوی وويل: دشکايتونو دبرسۍ دکمېيون لخوا د(۳۲) نوماندانو نومونه به دنهايی لست څخه خذف شي يواځی يوتن دخپل ځان څخه په دفاع کولوبريالی شويدي دپاتې (۳۱) تنو نومونه به ډيرژر د نوماندانو دنهايی لست څخه حذف شي.
په دغه بيړنی ناسته کي دشکايتونو داوريدلو دکميسيون لخوا په توضيحاتو کی وويل شول دټاکـنو دنوي قانون له مخي دشکايتونو دبرسی کميسيون صلاحيت نلري چه دنوماندانو نومونه له لست څخه حذف کړي البته کولی شي چي د ټاکنو دخپلواک کميسيون سره په تفاهم تورنو نوماندانو ته دسپناوی لپاره زيات وخت ورکړي.
دری ورځي وروسته فيفا موثق معلومات ترلاسه کړه چه کانديدانو ته دری ورځي مهلت ورکړل شوی دي.
دسرطان په (۱۶) تاريخ باندي دشکاياتو دکميسيون لخوا په جاری شوي بيانه کي راغلي چه د(۳۱) نوماندانو نومونه دنهايی لست څخه حذف شوي دي او پدی هکله دانتخاباتو دخپلواک کميسيون څخه دعمل غوښتنه شويده.

- دنهایی لست څخه دحذف شوی نوماندانو څخه لاس ته راغلي معلومات:

دسرطان دمیاشتی په لومړیو ورځوکي دفیفا دڅارونکو لخوا د (۲۴) تنو هغه نوماندانو سره مرکی کړي چه نومونه یی په دریم لست کي شامل دي، په دغه مرکوکي دا څرګندیږي چه د ټاکنو د اړونده ادارو ترمینځ یوالي اوهمغږي شتون نلري چي دا کار دقانون دماتیدو سبب ګرځي او سیاسي حقوق ترخپو لاندي کوی.
په دریم لست کي دشامل نوماندانو سره یو شان چلند ندی شوي چاته ددفاع او سپیناوی لپاره پنځه ورځی چاته دری ورځي او چاته دوه ورځی وخت ورکړل شویدي .
د دایکندی ولایت یو تن نوماند چی نوم یی د کاندیدا له لست څخه لری شوي دفیفا له څارونکي سره په مرکه کي داسي وویل: چی ددفاع له ټاکلي ضرب الاجل څخه څلورساعت دمخه راته وویل شول چه ستا نوم دکمیسیون په لست کي شامل دي او بعضی نورو نوماندانوته د ټاکلي وخت څخه وروسته خبرورکړل شوی دي، دسرپیل یو نوماند ته چه په نیت کي ئې کارکولو ورته خبرورکړل شو .
ددولتی مسوولینو سره په رابطه کي نوماندانو ته متفاوت وختونه ورکړل شویدي دفیفا دڅارونکو لخوا په ورکړل شوو راپورونو کي راغلي چي زیاتره نوماندانو ته ددفاع لپاره (۴۸) ساعت وخت ورکړل شویدي.
نوماندان شکایت لري چي په دوی لګول شوي تورو نه ورته په څرګنده توګه ندی واضح شوي نو څرنګه به وکړي شي چه دخپل ځان څخه دفاع وکړي ؟ بعضی نوماندان دخپل سرو وسلوالو ګرپونوسره خپل تړاو په کلکه رد وي او پدی هکله دکره شواهدو ثبوت غوښتونکي دي، اوهغه نوماندان چه پخوا یی د خپل سرو وسلوالو ګروپونو سره لاس درلوده وای چه مونږ اوس خلع سلاح یاستو او خپلی ټولي وسلي اومهمات مو د (ډی.ډی.آر) او (ډایاګ) پروژی ته تحویل کړی او پدی هکله کافی اسناد او شواهد لرو خومتاسفانه چی امنیتی مسوولین هیڅ توجه ورته نه کوی.

**لاندی موضوعات داسد د(۴) نیټي پوری مبهمی پاتي دی وضاحت او څرګندولوته یی اړتیاده :**

- ✓ دټولو هغه نهای لستونو مجموعه چه دبرسی دکمیسیون لخوا دشکایاتو کمیسیون ته استول شویدي.
- ✓ په هرلست کي دشاملو نوماندانو تعداد.
- ✓ دهغه نوماندانو نومونه چي په هرلست کي مکرردي.
- ✓ دهغه لستونو تاریخونه چه دشکایاتوکمیسیون ته استول شویدي .
- ✓ نوماندانوته د ورکړل شوی مهلت ټاکلی وخت ذکرکول.
- ✓ له کومو معیارونو څخه کاراخستل شوی چه دمخې یی نوماندان تورن معرفي شویدي.
- ✓ ددفاع پرمهال وثایق اوثبوتونه .
- ✓ د وروستنی لست اصلی نقل .
- ✓ هغه نوی لستونه چه دبررسی دکمیسیون لخوا تر نیټې شوی او د ټاکنو دشکایتونو دکمیسیون لخوا منل شویدي.

**دروان جریان په اړه دفیفا سفارښتنی :**

فیفا په ټاکنوکي درونټوب ، شفافیت اودشکایتونو د بی طرفه څیرنی اومساویانه قضاوت څخه ملاتړاو حمایت کوي ،او دټولو هغه نوماندانو چه دغیری قانون ي وسلوالو ګروپونو سره د تړاوپه تور تورن شویدی ټولوسره دیوشانته چلند غوښتونکی دي او په هم دی ترتیب ښدولسی جرګی په روان ټاکنیزبهیرکی د عدم شفافیت لکبله خپل سفارشات په لاندی ډول وړاندی کوی:

هغه نوماندانو په هکله چه دوسلوالو ګروپونوسره دتړاو په اړوند دشکایتو کمیسیون ته شکایتونه شویدی دشکایتونو په بررسی کولو کي دشفافیت نه کارندي اخستل شوي دشکایتونوکمیسیون او دټاکنوخپلواک کمیسیون خپلواکی یی دپوښتنې لاندی راوستی ده دسیاسی حقوقو نقض اویوطرفه قضاوت شمیرل کیږی.

۱: فیفا خپل سفارشات اوتوصیات په لاندی څرګندو ټکوکي وړاندی کوي:
الف: دغه نشرشوی راپورچه دکاندیدانو داعتراضاتودصلاحیت په هکله نشرشوی دی دفیفا پوښتنوته باید داسد تر(۱۰) نیټی پوری ځواب وویل شی ترڅوټولی موجوده اندیښنی له مینځه ولاړی شی .
ب: درست او دقیق معلومات برابرول او وړاندی کول او په موقع سره د رسنیو او ټولو ذیدخلو اورګانونو اعتراضاتو ته رسیده ګی کول.
ج: د خلکو دخبرتیا لپاره پراخه پروګرامونه جوړول او دټاکنو له روند سره دخلکو اشناکول.
۲: دشکایتونو داوریدو کمیسیون په شکایتونوکی د غیری شفافیت لکبله ملی اونړیوال قوانین ترخپولاندی کولوسره دغه پروسه دسختو مشکلاتو اوستونزوسره مخ کړی دټاکنو دبهیر دقوت او شفافیت په منظور اود نوماندا نو دسیاسی حقوقو دحفاظت کولوپه هدف فیفا دشکایاتو کمیسیون ته بیشنهاد کوی.
الف: هغه نوماندان چه دو سلوالو ګروپونوسره دتړاو په تور کمیسیون سره څومره شواهد او اسناد موجود وی هغه دي دولس په واک کي ورکړي اونشردی کړي.
ب : یو بی طرفه کمیسیون دی دجامعی مدنی اود بشردحقوقو دمدافع اشخاصواو یونما له استازو څخه جوړشي اودغه دوسی او شکایتونه دی بررسی کړی ترڅو د ټاکنوروند شفاف اوپه راتلونکی کي دنورونوماندانو لپاره یودرس شی.